Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶

سوله او جګړه

خپرونکې : د سنایي پرمختیایي موسسه
مسول مدیر : راز محمد دلیلي
لیکونکی : احمد فرید «عارفي»
پښتو ژباړه : امان الله «لودین»
انځورګر : سلطان حمید «فانوس»
کمپوز او ډیزاین : سیف الله «زمانی»

لومړی چاپ : ۱۰۰۰ ټوکه د NCA مالي مرستو اداره تله ۱۳۷۸
دویم چاپ : ۵۰۰۰ ټوکه د US-BPRM په مالي مرسته د IRC-UGP له خوا ، لیندۍ ۱۳۷۹
دریم چاپ : ۲۰۰۰ ټوکه د Asia Aid TroCAIRE په مالي مرسته ۱۳۸۰ هـ. ش
څلورم چاپ : ۱۰۰۰ ټوکه د سنایي پرمختیایي موسسې SDF په مرسته ، مرغومي ۱۳۸۱
پنځم چاپ : ۱۰۰۰ ټوکه د سنایي پرمختیایي موسسې SDF په مرسته ، وړۍ ۱۳۸۲
شپږمه چاپ : ۲۰۰۰ ټوکه د سنایي پرمختیایي موسسې SDF په مرسته ، لیندۍ ۱۳۸۲
اوومه چاپ : ۱۰۰۰ ټوکه د سنایي پرمختیایي موسسې SDF په مرسته ، غویي ۱۳۸۴
اتم د پښتو چاپ : ۱۵۰۰ ټوکه د سنایي پرمختیایي موسسې په مالي مرسته د ۱۳۸۵ کال د د سلواغې میاشت
نهمه طبع پښتو : ۱۰۰۰ ټوکه د سنایي پرمختیایي موسسې په مالي مرسته د ۱۳۸۶ کال د کب میاشت
لسمه چاپ پښتو : ۱۰۰۰ ټوکه د سنایي پرمختیایي موسسې په مالي مرسته د ۱۳۸۶ کال د کب میاشت

ددې کتاب ټول حقوق د سنایي په پرمختیایي موسسې پورې اړه لري.

په کابل کې پته : پنځم سړک، انصاري څلور لارې د محمد علم فیض زاد لیسې خواته
تیلفون : ۰۲۰ - ۲۲۰۱۶۹۳
پست بکس : ۱۸۱ کابل افغانستان
بریښنا لیک : sieal@brain.net.pk
انترنیت پانه : www.sanayee.org -www.nawidefarda.org
په پاکستان کې پته : اوکزي پلازې شاته، یونیورسټي تاون، پیښور پاکستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶

تصويري کيسه

سوله او جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د اوسني چاپ سريزه

د سولې او جګړې تصويري کيسه چې په (۱۰۰۰) ټوکه ورستی چاپ په دري ژبه د سنايي پرمختيايي موسسې له خوا چاپ شو او (۱۰۰۰) ماشومانو او ځوانانو ترلاسه کړل. د مينه والو د زياتې تندې او پرله پسې غوښتنو له امله دادی نوموړی اثر په پښتو ژبه ژباړه (ترجمه) او چاپ شو.

ددې کتاب ليکونکي د سولې اوسوله ايز ژوند ښايسته انځور وړاندې کړی دی. ژباړونکي هم کوښښ کړی څو نومړی انځور د پښتو ژبې په چوکاټ او قالب کې وړاندې کړي هيله لرم اوسنی چاپ د سولې او سوله ايز ژوند په لوری يو بل موثر ګام وي څو د سولې د پسرلې ثمر او حاصل په ستر ګو وويني.

والسلام

راز محمد دليلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

څرنګه چې ټولوټه څرګنده ده نظم، نثر او انځور (تصویر) د زده کړې او د یوې پدیدې یا مفکورې د وړاندې کوولو عمده لاره ګڼل کیږي. چې بشر له پیرو پخوا زمانو څخه را پدې خوا ټولنه کې د خپلو نظریو او مفکورو د تعمیم لپاره له هغو څخه ګټه اخیستې ده.

ددې اصل په اساس، د سنایي پرمختیایي موسسې (SDO) د خپلو علمي او فرهنګي فعالیتونو په دوام چې د وطن د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د لابنې روزنې په منظور تر سره کیږي. دا دی یو نوی اثر چې «سوله او جګړه» نومیږي د چاپ په ګانه سمبالیږي.

دا اثر د ورور «احمد فرید عارفي» په واسطه لیکل شوی دی. په دې اثر کې زیار ایستل شوی څو د جګړې ناخوالې او بد رنګي او د سولې ښیګړې او ښه والی د نظم، نثر او انځور په توګه دلوستونکي ستر ګو او ذهن ته تمثیل کړی. په وروستنی تحلیل کې دا اثر لاندې پیغامونه او مفاهیم لوستونکو ته وړاندې کوي.

- د لوستونکو په ذهن کې د جګړې له ناولتیا او له هغې څخه کرکه.
- د ټولنې د وګړو تر منځ د سولې ښیګړې او د سولې غوښتنې د مفکورې ایجاد.
- د ژوند په ټولو ډګرونو کې د جګړې د ذلت، نا پایه داري او ماتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• د سولې د بریالیتوب ټولو اړخونو ته امید ونه.

په پای کې د ســنایي پرمختیایي موسســي SDO اداره ددې هیله لري چې ددې اثر په خپرولو برسیره چې یو کلتوری خدمت ترسره کوي، یوګام د سولې او سوله غوښتنې پر لور د وطن د ماشومانو، تنکیو ځوانانو او ځوانانو ترمنځ هم اوچت کړی وي. څو لـه دې لارې د سولې د تعمیم پر لور په ټولنه کې برخه واخلي.

و من الله توفیق

راز محمد دلیلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

Preface

In continuation of its past education and cultural activities, Sanayee Development Organization (SDO) has published a new peace education children book in Pashto language entitled "Sola aw Jagra" for the Afghan children and teenagers.

The author of this book is Mr. Farid Arifi, an Afghan young writer. This book gives a moral lesson form the catastrophes of war and the goodness of peace in poem and prose. The book has been illustrated with pictures in order to convey better its messages to the readers.

To say in brief this book conveys the following ideas and messages to the readers:

The ugly pictures of war and feeling of hatred fo the war.
Goodness of peace and creating peace motivations in the society.
Defeat of war in all spheres of life.
Victory of peace and being hopeful for the peace.

We hope this book would create motivation for peace among the Afghan children, teenagers and youth and would serve towards dissemination of culture of peace in the Afghan society.

With Regards,
Raz Muhammad Dalili

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوله او جګړه

له ورځو څخه یوه ورځ ناڅاپه (نابیره) «سوله» او جګړه» یو له بل سره مخامخ شول. دې دوو پخوانیو دښمنانو ډیره موده وروسته یو له بل سره وکتل. «سولې» له سلام وروسته په دې ډول په خبرو شروع وکړه:

سوله : له کومه ځایه راغلې یې؟

جګړه : د فلاکت، بدبختۍ، پریشانۍ، ستونزو او ... په لنډه توګه له هغه ځایه چې ستا قدمونه هغه ځای ته نه دي رسیدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړه : ته له کوم ځایه راغلې یې؟

سوله : د پاکۍ امن، آرامۍ، خوشحالۍ ...
له ښاره له هغه ځایه چې زه د ټولو خوښه یم
او له ستا څخه کرکه (نفرت) لري.

جګړه : د سولې له خبرو په غوسه او په غږږو
شـــوه. د خپل ځان په صفت او د ســـولې په
ملامتولو او تهدیدولو یې شروع وکړه.

سولې او جګړې کړله یو تر بله ګفتګو

د خپل حـــال شرح یې کړله هو په هو

«ســولې» له بــې ځایه جرا و بحــث او جنجال
څخه کرکه درلوده په نرمه ژبــه او مهربــانه
توګه «جګړه» آرامتیا او سړه سینه توب ته را

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

وبـــلله او هغې ته يې داســـې وړاندیز وکړ.
راځه چې دواړه لـه هغـو ځایونـو څخـه لیدنـه
وکړو چې د هغو تر حـکم او فرمان لاندې دی
اوله نږدې څخه د یو بل د کار ثمره او حاصل
ووینو، وروســته هغه ســره پرتله کړو چې چا
ټولنې ته ښه کار ســرته رســولې او کوم یوه
ټولنې ته بـدي او ضرر رســولی دی. ســولې
وویل:

راځه : وکړو منځ د ښار ته یو سفر
څو پیدا کړویو د بــل د کــار ثمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

«جګړه» په ډیره بده وحشتناکه څیره او په ډیرې غوسې سره د سولې نظر ومانه او دواړه پر لاره رهي شول. د لارې په اوږدو کې «جګړې» په تکبر او لویې بې له دې چې سولې ته مخ وګرځوی سولې ته وویل:

ښه به داوی چې لومړی د خپلو کارونو پرتله له تا سره له ښوونځي څخه پیل کړم ځکه چې ما هلته ډیر کارونه کړی چې هغه باید تاته وښیم.

جګړې وویل لومړی به ښوونځي ته مخه کړو بیا به موږ په بل لوری مخه کړو.

د «جګړې» له دې خبرو وروسته دواړه د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونځي په لور روان شول چې د ښار د لارې په اوږدو کې پروت وو، له لرې واټن څخه يې نوموړی ښوونځی چې د اور په لمبـــــو کې ســـــــــوځيده او لوګي تري پورته کيدی وروښود.

او زياته يې کړه :

هغه څه چې ته د خاورو لوګو منځ کې ګورې پست

يو مهـــال ووښايسته محـــل د زده کړې او دلـوست

ما کړل بند دفتر او ديوان دده

ما کړل مړه ټول شاګردان دده

مـــا کـــړ د ښوونځی ښايســـته تعـــمير خـــراب

مـــا کړل سوخـــــته په اور ميز او چوکی خراب

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل جلا ما معلم او شاګرد دده

کړل جلا ما کتاب او قلم دده

دا تباه کاري او وران کاري ټول دي کار زما

دا سبب دی چې نوم شوی په هر ځای دښمن زما

«سوله» چې د «جګړې» له تباه کاریو، ورانیو او خوابدیو صحنو له اوریدو او لیدو څخه ډیره خفه وه. په خاصه توګه د هغه ښوونځي له ورانو او یجارو خونو له لیدلو څخه چې یو وخت ښکلی مکتب وو. د ژړا او اوښکو منځ کې «جګړې» ته په خطاب کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

ای چې تـــا کـــړه دومـــره ظلـــم او جفـــا

ته بـــــــه څنګه څه ووایې په مخ د خدا(ج)

ذره ذره بـــــــه پوښتنه کیږي له ســـــــتا

په ورځې د محشـــــــــر یعني ورځ د جزا

«جګړه» بې له دې چې د «سولې» خبرو ته پام وکړی په ډیر ناولې اوزیږ غږ سره له«سولې» څخه غوښتنه وکړه چې هغه هم خپل کارونـه او فعالیتونه د عمل په ساحـــه کې هغې ته وښیي.

«سوله» او «جګړه» په لاره رهي شول او له یو څه مزله وروســـــــته له لیري واټن څخه «جګړې» ته یو بنوونځی چې په هغه کې زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکي په لوست لګيا (بوخت) وو او يو شمير زده کوونکو د سولې ترانه ويله وښود. سولې د خپلو فعاليتونو او کارونو تشريح په دې توګه شروع کړه.

دا چې ګورې له هير لري نمايان دي

مکتبونه ځای د پوهې او ضيان دي

تعميرونه يې ښايسته او نوراني دي

هره خواکې يې ګلونه رنګارنګ دي

زده کوونکي او ښوونکي دي خوشحال

همه واړه دي دوي ليري له ملال

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

په خوښي کړي منډې تر ړي ماشـــــــومان

دوي ټول غواړي ما په ارمان د جســـم و جان

زما صفت په هره زده کـــړه او مضمـــون

دا چې خير او نيکي يم همه واړه دي ممنـون

دا ټوله ښکلا ده په دي ځای د سولې د مضمون

امن او ســوکالي ده ځان او روح ددي مضمون

«ســـــــولې» د خپلو تعريفونو په پاي کې «جګړې» ته مخ واړاوه او په مســـکا کې يې چې ددې د بريا وو بـيان کوونکي وو داسـې پوښتنه وکړه.

آيا نورې لاسته راوړنې هم لري که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

«جګړه» د لاس په واسطه ښار ته اشاره کوی.

دا چې د ښوونځي په بحث کې جګړې ماتې خوړلې وه نو داسې یې وګڼله چې د ښار په باره کې په بحث کې به بری وموميږ. نو د ښار په لوري په حرکت شول او «سوله» یې د ښار لوري ته وبلله. بالاخره د ښار په نږدې شاوخوا کې چې هر څه وروان ویجاړ او په کنډوالو بدل شوي و.

جګړه د یوې خاورینې غونډۍ پرسر چې یو وخت ښکلې مانۍ وه ودریده او خپل فعالیتونه یې پدې توګه تشریح کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونه زما دي په دې ښار کې بـــي حسابـــه

هر چيرې چې آبادي وه کړله ټوله ما خرابـــه

ټول مې په يو شـــــــان کړل خاورې لوګي

ټول له لاسه ولاړل هر څه شول دوړې لوګي

په هر ځای مې چې د اورلمبـــه کړه بـــله

ودانۍ په بربـــــادۍ شـــوله بـــدله

ددې ځای خلک زما د لاســـــه شـــو فرار

په بـــلا د بـــې صبـــري کې نا قـــرار

ماوتښتولـــه د هغـــوي د خولـــې مـــړۍ

ما کړله ماته د هغو د ســـــــــرکو پړۍ

ما کړله خاموشـــــه د ښارونو خوشحـــالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

ما کړله خوره په عقلونو بې هوشۍ

نه مې تیلفون پریښودنه نل د آب

ورمې کړ هغو ته په مرمۍ ځواب

ما کړل تخمونه دنفرت هر ځای

لوړ مې کړل بیرغ د تقابل هر ځای

«سولې» چې په چوپتیا سره دوران شوي بنار ننداره کوله د بنار په بدحال او بنکې تویولې. «جګړې» د هغو کارونو په باره کې چې کړي یې وو خبره بایلو ده .

د آه حسرت او مایوسي په نړۍ کې یې جګړې ته مخ وګرځاوو او داسې پوښتنه یې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره ناولي ولې يې اي جګړې

سر تر پايه ډوب ګناه کې يې جګړې

«جګړه» بې له دې چې «سولې» ته د زياتو خبرو وار ورکړی، د سولې خبره يې پرې کړله او له هغې څخه يې وغوښتل چې په سولې پورې مربوط ښار جګړې ته وروښيي او خپل فعاليتونه روښانه کړي.

«سوله» هم په خوښۍ د هغه ښکلی ښار په لوری چې لرې واټن کې پروت وو. په حرکت شول تر څو د ښار نږدې ته ورسيدل. سولې له جګړې څخه غوښتنه وکړه څو ښار ته داخل نه شي او له همدې ځايه د هغه ننداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي سولې زیاته کړه :

ای «جګړې» زه له دې بنکلي او بنایسته بنار سره چې ټول وګړي یې په صفا او صمیمیت کې یو له بل سره ژوند کوي، ډیره مینه لرم. لطفاً له همدې ځایه د هغه بنکلې مانۍ او پاك سرکونه وګوره. ځکه چې د تا «جګړې» هغه ځاي ته نږدې کیدل، د بنار د وګړو تر منځ ویره رامنځ ته کوي او ژوند اخلال کیږي.

زه له همدې ځایه ټول شیان لکه باغونه، مانۍ، بنکلي سرکونه، روغتونونه، بنوونځي تاته ښیم. وروسته سولې په دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــوګه د خپلـــو فعاليتونـــو په تعريـــف او توصيف شروع وکړه:

دا چې تـــه ګورى دا ښکلـــى ښار صفـــا

دلته رحـــــــــم او نعمت دي د خدا(ج)

زما کار دى آبـــــــــادي او عمران دده

عزت او آرامي د انســـــــــان دده

ټول وګړي ددې ښار دي نيکـــــــــان

ځکـــه ښار د دوي دى جنـــت نـــښان

رزق او روزي ډيـــره ده هـــر خـــوا کـــې

ټول وګړي يـــې ژونـدون کـړي په صفـا کـــې

واټونه او پارکونه يې زيـــــــا دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

آدمیان یې هر ســـــــــهار مانښام په دعا دي

او ســـــــــیدونکي یې جمله دي نیک نظر

ښکلو نرویې ترڅنګ آبـــــــــادی ته خپل کمر

ګوره دادی آبـــــــــادي زما د کارونو

آینه کې یې ته ګوره نتیجه د زحـــــــمتونو

«جګړه» چې د ســـولې په واســـطه د دومره آبـــادیو، د وګړو د خوښۍ او ســـولې د محبوبیت او بریالیتوب څخه د شرم په خولو کې ډوبـــه وه. د ســـولې له دې پوښتنې څخه حیرانه شوه چې ویل یې:

اوس ربنتیا ووایه چې کوم یو له مونږه ناکام شو. زه هیله لرم چې زما او ستا ترسره شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونه په پوره بې پرې (بې طرفي) یو په یو پرتله (مقایسه) او قضاوت وکړی.

په دې حال کې مخکې له دې چې «جګړه» څه ووایې د الوتونکو غږ چې د دوي د پاسه دونو په ښاخونو کې په لیکه ناست وؤ، تر غوږ وشو چې په ګډه سره یې په ډیر خوږ غږ دا ترانه زمزمه کوله:

مور واړه مرغان خوښخوان

واړه وایو په صدق او ایمان

ای جګړې ته ناکام یې په جهان

له ستا څخه دی هر یو پریشان

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

دادی زمـــــوږ ټولـــــو پیغـــــام

دادی زمـــــوږ ټولـــــو پیغـــــام

مـــــوږ واړه مرغـــــان خوښخـــــوان

په ټنـــا د لـــوي څښتـــن غـــزل خـــوان

اې ســـــولې بـــــریالی یې په هر آن

لـــه تـــا نـــه دي ټول واړه ښادمـــان

دادی زمـــــوږ ټولـــــو پیغـــــام

دادی زمـــــوږ ټولـــــو پیغـــــام

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

6

Sola Aw Jagra

(Peace and War)

Published by	:	Sanayee Development Organization (SDO)
Editor - in - Chief	:	Raz Muhammad Dalili
Author	:	Ahmad Fareed Arfi
Pushto Translation	:	Amanullah "Ludin"
Artist :	:	Sultan Hamid Fanoos
Composed By	:	Saifullah Zamani

1st Edition : 1000 copies, Financed by (NCA), Sep 1999
2nd: Enditon : 5000 copies, Financed by US-BPRM through IRC-UGP, Dec 2000
3rd Edition : 2000 copies, Financed by TroCAIRE and AusAid, Oct 2001
4th Edition : 1000 copies, Financed by SDF, February 2003
5th Edition : 1000 copies, Financed by SDF, August 2003
6th Edition : 2000 copies, Financed by SDF, Nov 2003
7th Edition : 1000 copies, Financed by SDF, Apr 2005

8th Edition	:	
Publishing date	:	Feb 2007
Number of copies	:	1500 copies
Financed by	:	Sanayee Development Organization (SDO)
Kabul address	:	Sanayee Development Organization (SDO) Charrahi Ansarri, street # 5th Near (Muhammad Alam Faiz Zad) high school
Kabul telephone	:	0093-(20) 2201693
Post Box	:	181 Kabul Afghanistan
Email	:	sdfkabul@ceretechs.com
Websites	;	wwwsanayee.org Www.nawidefarda.com
Peshawar Address	:	Behind Orakzai Plaza and total CNG, university Road Shaheen Town, Peshawar Pakistan
Telephone	:	0092-91-5842155 - 91582165
Fax	:	+92+-1-5845139

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library